| Political | سیاسی |
|---|---|


**ليکوال : ډاکتر رحمت ربی زيرکيار**

۳۱ جولای ، ۲۰۰۹

## تاريخ د تاريخ سره و يني: دامريکي او« چنگيز خان » لښکرېِ او د جنګ جنايتونه، «بُلشيت» [ سپک ] سياست

د ۲۰۰۱ زييز کال د ۹۱۱ له بخولي نه نهه ورځې وروسته د سپتمبر په شلمه د امريکې دمرکزی استخباراتو ( سي آې أئ ) خاص تيم ( جابريکر ) د شمالی ټلوالې سيمو ته ورننوت . زبرځواکې امريکې اوه لس ورځې وروسته د اکتو بر په اووه مه ورځ په افغانستان بر بنډ يرغل وکړ چې په اوږد و کې يې د جنګ جنايتونه شوی دی ( د شبرغان ښار په خوا کې د د شت ليلي ټول خخونه، مَس ګريوسايټ ). د دغو جنايتونو په مهال، د جنګ متحد ين شته وو : پخپله امريکه او شما لي ټلواله . د شمالي ټلوالې مشران د امريکې د عسکري، مالي، سيا سي، تخنيکي، او تبليغاتي ملاتړ نازولي و . ددغسې هراړخيز ملاتړ د زور په برکت، امريکې دواړه قد رت او مسوليت لرل چې د خپل متحد ياني شمالي ټلوالې جنايی عمليات کنټرول کړي، مخه يې ونيسي،او ثبت يې کړي . د خپل متحد د جنايتونو پېټول او د هغوی لاسوند ونه ( شواهد ) له مينځه و ړل او ګوتې پکې وهل پخپله د جنګ جنايت د ی . په دې ليکنه کې په څلور مهمو کتابونو کې د شمالي ټلوالې په ا کله معلومات وړاندې کوم. د دغو معلوماتو د راټولولو هدف دادی چې د شبر غان ښار په خوا کې د ۲۰۰۱کال د نوامبر د ميا شتې د پای په شاوخوا کې د د شت ليلي د ټول خخونې د ېرۍ ( د وسيې ، فايل ) ته يو څو څنګن ( ضمني، په قراينو متکي ) معلومات وروړاچوم . دغه څنګن معلومات مهم دي ځکه چې د مهمو اشخا صو له کتابونو نه راټول شوي دي . هر څومره چې په امريکه کې د ولسمشر جورج ډ بليو بوش له سپيره پېړ نه څپونی لرې کېږي، هغومره به د شمالي ډالر والې د مشرانو خوبونه ټبنتي . د امريکې د مرکزي قواو ستر کوماند ان جنرال ټامي فرانکس د تاجکستان په د وشنبه ښار کې ( ۳۰، اکتوبر ۲۰۰۱) د جنرال قسيم فهيم د يوې غوښتنې په مقا بل کې خپل احساس د « بُلشيټ » په ټکي څرګند کړ چې تشريح يې په لاندې ډول ده .

بُلشيت انګريزي ټکی دی چې په لفظي ژباړه کې ورته « د غويي خوشان» ويلی شو. بُلشيت يوه عاميانه او بازاري اصطلاح ده چې په پښتو کې ورته چټيات يا بې خونده، سپکه، بې‌خرته او بې مفهومه خبره ويلی شو.په امريکه کې په پرينستن پوهنتون کې د اخلاقي فلسفې متقاعد پوهاند هيري جي فرانکفورت « د بُلشيت په اکله» (آن دي بُلشيت) يو کتابګوټی خپور کړی دی( پرينستن يونيورسټي پريس، ۲۰۰۵، ۸۰ مخونه).په دې کتابګوټي کې د روڼ اند يزوټوکو له لارې د موضوع سره علمي چلن شوی دی .پخپله د بُلشيت ټکي لپاره ولولئ د وه مهم انګريزي سيند ونه:نيو اُکسفورد آمېريکن ډ يکشنري، دوهم چاپ( ۲۰۰۵)،۲۲۷مخ؛ ميريَم

ویبسترز کا لیجیت ډیکشنري،یولسم چاپ ۲۰۰۵، ۱۶۳ مخ. د بُلشیت سیاست د مفهوم د رو ښا نتیا لپاره یو تازه مثال وړاندې کوم: د ولسمشر نوماند بَرک او باما داسې مفکوره وړاندې کړې وه چې که ولسمشر شي د ایران سره به د خبرو له لارې سیاست وچلوي.څوارلس میشتې وړاندې د زییز کال ۲۰۰۸ د می په نیمایي کې ولسمشر جورج ډ بلیو بوش (۲۰۰۱ تر ۲۰۰۹) د اسرائیلو په پارلمان کې وینا وکړه او هلته یې د اوباما بهرنی سیاست د هغه چا د د ریخ سره پر تله کړ چې له د وهمي نړۍ والي جګړې نه وړاندې یې نازیان (نازیز،په الماني کې ناڅیز) تسکینول. سناتور جو باید ن چې د امریکې په مشرانو جرګه کې د بهرنیو اړیکو د کمېټې مشر و، د ولسمشر بوش مقایسه « بُلشیت » وګڼله:« دا چټیات دي، دا مضحکه [خبره] ده.د ا سپکه ( د خندا وړ ) خبره ده » چې د امریکې ولسشر دې د یوه بهرني هېواد په پارلمان کې د غسې څه ووایي "This is bullshit, this is malarkey. This is outrageous, for the President to go to a foreign country, to sit in the Knesset[Israeli Parliament]... and make this kind of ridiculous statement."

زه به په دې لیکنه کې،په افغانستان باندې د امریکې د یرغل په اړه په څلور مهمو کتابونو کې د امریکې او شمالي ټلوالې اړیکې راوسپړم. دوه کتابونه د امریکې د مرکزي استخباراتو (سي آي اَئ) د ایجنټانو له خوا لیکل شوي دي،او دوه نور د امریکې د مرکزي قواو (سېنټرال کمانډ) د د وه غټو جنرالانو له قلمه راوتلي دي چې یو یې د مرکزي قواو ستر کُماندان دی او د وهم د ده مرستیال کُماندان دی. لومړی به د سي آي اَئ د یوه ایجنټ په کتاب کې معلومات معرفي کړم؛ بیا به د جنرال د یلانګ کتاب ته لاړ شم؛ وروپسې به د سي آي اَئ د دوهم ایجنټ معلومات وښیم، او په پای کې به د مرکزي قواو د ستر کُماندان جنرال فرانکس له کتاب نه غټ ټکي راوباسم

**د سي آي اَئ د فعالیتګر ګیري شرون کتاب**

Gary C. Schroen, First-In: An Insider's Account of How CIA Spearheaded the War on Terror in Afghanistan. Presidio Press, May 10, 2005, 400 pages.

ګیري شرون،لومړی ننوتلی:د داخلي کارمند کیسه چې سي آي اَئ څنګه په افغانستان کې د تروریزم په ضد د جنګ لاربښودنه وکړه ،پریزیډیوپریس ،۱۰می ۲۰۰۵، ۴۰۰ مخونه. ګیري شرون له ۳۲ کلونو راهیسې په سي آي اَئ کې د عملیاتو د ریاست مامور و. نوموړي په افغانستان،پاکستان،ایران،سعودي عربستان،او دوبۍ کې مخبران استخدامول، روزل او اداره کول. له ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۰د کابل د سي آي اَئ د څانګې مشر واو بیایې له ۱۹۹۶ تر ۱۹۹۹ په اسلام اباد کې عین وظیفه لرله . په افغانستان کې د سي آي اَئ عملیاتګر ( اوپَراتیو ) ګیري شرون د ۹۱۱ له بخولې نه نهه ورځې وروسته،د زییز کال ۲۰۰۱د سپتمبر په شلمه نېټه د تاشکند له لارې د شمالي ټلوالې د سیموپه لوري وخوځېده. د ده لومړئ کتنه دانجنیر عارف سروري سره وه چې د احمد شاه مسعود د استخباراتي او امنیتي چارو مسول و . شرون وایي چې په مطبوعاتو کې د مسعود سازمان ته «شمالي ټلواله» ویل کېدله. خوعارف په افغانستان باندې د امریکې د یرغل په مهال له شرون نه هیله وکړه چې که د شمالي ټلوالې په ځای « د افغانستان د نجات متحده اسلامي ټلواله » وکاروي. په ۱۹۹۶ کې چې کُماند ان مسعود له برهان الد ین رباني نه بېل شو، د غه نوم یې غوره کړ. مسعود په ۱۹۸۰کلونو کې خپل سازمان « شورای نظار» نومولی و . شرون د عارف په حواله زیاتوي چې د شمالي ټلوالې نوم د پاکستان استخباراتورا ویستلی و چې «مسعود او دهغه ټلواله څانله »( آیزولیت ) کړي-د کتاب ننتوځ\سریزه ولولئ . د انجنیر عارف له یاده وتلي ده چې د « شورای نظار» ټول نوم « شورای نظار صفحات شمال» و . بل چا سیمه ییز نومونه د ځان لپاره نه وو غوره کړي( زیرکیار)! شرون چې له پخوا راهیسې یې د شمالي ټلوالې سر اړیکې لرلې، په خپل کتاب کې کاږي چې پخپله دی استاني نومي ځای ته په موټر کې لاړچې هلته په هوایي ډ ګر کې د عارف سره ووېني اود امریکې دمرکزي قواو د ستر کُمند ان جنرال ټامي فرانکس سره د ملاقات لپاره یې چمتو کړي .مخکې له دې چې عارف په امریکا یې څرخی (چورلکه، هېلیکوپټر) کې د وشنبې ته والوزي،ګیري شرون ته یې وویل چې ممتاز به د فرانکس سره د ملاقات لپاره وړاند یز ترتیب کړي اوقسیم فهیم ته به یې د راډیو له لارې ورسوي مخکې له دې چې عارف به دوشنبې ته رسېدلی و ي .شرون د استاني په هوایي ډګر کې عارف ته وویل چې جنرال فهیم باید ځان د جنرال فرانکس سره د ملاقات لپاره کره کړي؛ فرانکس غواړي چې د شمالي ټلوالې د برید په ټولو اړخونو و پوهېږي-لکه د قواو کچه،نظم،چمتووالی او د برید د پېل او پای وخت او ځای .دغه شان، فرانکس ته باید توضیح شي چې فهیم ولې په طالبانو برید نه و پېل کړی په داسې حال کې چې د وستم د مزارشریف په شاوخوا کې طالبان د بریدونو لاندې نیولي وو .دغه شان ،فهیم باید په دې وپوهېږي چې له فرانکس نه څه غواړي .غونډه د جنرال فرانکس په مخصوصه عسکري الوتکه کې وشوه.( د

۲۰۰۱داکتوبر وروستنئ درې شنبه چې د همدغې مياشتې د د برشمې نېټې سره سمون خوري-زيرکيار).په سي آي اًئ کې د ټروريزم ضد څانگې افسر هانک په دغه غونډه کې گډون لاره. دده په حواله شرون کاړي چې فهيم په غونډ ه کې چې له امريکايي جنرالانو ډ که وه،اغيږ (وار ختا) شوی و :«اُوروېلمد باې دي سېټېنگ...سَموَټ فلَسترډ .» فرانکس په فهيم زوږ واچاوه چې مشخص پلان او وخت وېش(ټايم لاين) وښئ . فرانکس ورته وويل چې خپل پلانونه دې د سي آي اًئ اوپه پنجشېر کې د کرنېل اِيچ سره همغږ کړي-دلته د اِيچ توری د کرنېل د ټول نوم لنډ ون دی، زيرکيار. گري شرون زياتوي چې جنرال فرانکس به په «پرله پسې ډول» ويل چې په شمالی ټلواله ددې «ډ اډ» نلري چې په طالبانو به د کابل په شاوخوا کې بريد وکړي. مخونه : ۲۸۵،۲۹۷،۳۰۵-۳۰۴، او ۳۲۷

"General Franks continued to say that he had no confidence in the Northern Alliance to carry the fight to the Taliban at Kabul.", pp.285,297,304-305, and 327.

**د جنرال ما يکل د يلانگ کتاب**

L.T. Michael DeLong with Noah Lukeman, Inside the CentCom[Central Command]: The Unvarnished Truth about the Wars in Afghanistan and Iraq. Washington, DC: Regnery Publishing, Inc. (September 25, 2004), xvii + 222 pages.

جنرال مايکل د يلانگ د نواه لوکمن سره، د مرکزي قواو په د ننه کې :د افغانستان او عراق د جنگونو په اکله شډ ل واقعيت، واشنگټن ډي سي : ر يگنري پبليشينگ، ۲۵سپتمبر ۲۰۰۴، اتلس + ۲۲۲ مخونه

په ايران کې د شاهي نظام له ړنگېدلو او په ځای يې د اسلامي جمهوريت له ټينگېډ لو نه وروسته، د امريکې د مرکزي قواو تشکيلات ( سېنټرال کمانډ) رامنځته شول. په دې ډ ول منځنی ختيز دمرکزي قواو د پاملرنې اصلی ساحه شوه . اوس د مرکزي قواو د مسوليت په ساحه کې ( اَيريا آف ر يسپا نزيبيليټی ) لاند يني هېوادونه راځي : د مصر په شمول د ټول منځني ختيز هېوادونه، پاکستان،افغانستان ، او د شمال خواته د مرکزي اسيا هېوادونه د کزاخستان په شمول(مخ ٦ ) کمانډ يو سيمه ييزعسکري تشکيل دی چې د همغې سيمې څارنه کوي . د زييز کال ۲۰۰۱ د سپتمبر د يولسمې نېټې له بخولې نه د مخه درې نورکمانډ ونه هم موجود وو: د اروپا کمانډ، فَسېفيک کمانډ، او سهيلي کمانډ(مخ ٥) . رابرټ ډي کَپلان چې په خپلو کتابونو کې عسکري او بهرني اړيکې رانغاړي، دوه نور کمانډونو ته هم گوته نيسي : يو يې شمالي کمانډ نومېږي چې د نورو څلور کمانډ ونو په شان په دفاع وزارت پورې ترلی دی،او د وهم د خاصو عملياتو کمانډ دی چې بود جه يې له کانگرس نه راځي . له ۹۱۱بخولې نه وړاندې، د خاصو عملياتو کمانډ په کلنې ډ ول په يوسل اويا(۱۷۰) هېواد ونو کې عمليات کول چې « په اوسط ډول به پکې نهه تنو < غليو چارپوهانو > برخه اخيستله» (کوايټ پروفېشنلز ). د رابرټ کپلان د معلوماتو لپاره ولولئ : ډاکټر رحمت ر بی زيرکيار، د نوي سياست الجبره : د امريکې د امپراتورئ لپاره فکرونه، ستراتيجئ، پلانونه او غولونې، خپرند وی د پښتني کولتور د ودې او پراختيا ټولنه-جرمنی، چاپځای د د انش خپرند وی ټولنه-پېښور ۲۰۰٦ ، ۴۲ تر۴۳ مخونه

په مرکزي قواو او افغانستان کې د سي آي اًئ د ايجنټانو له لارې، د مرکزي قواو د ستر کوماندان جنرال ټامي فرانکس سره د تاجکستان په د وشنبه ښار کې د شمالي ټلوالې «پټ ملاقات» ترتيب شوی و . فهيم خان لومړی او ورپسې عارف په د وشنبه کې د ملاقات منتظر وو.[ داسې برېښي چې ممتاز به هم د عارف سره يو ځای هلته تللا ی و؟] عارف د احمد شاه مسعود د استخباراتي او امنيتي چارو مسول و . ښايي چې ممتاز به د پلان او\يا خزانې مسول و [ ټامي فرانکس يو چا ته گوته نيسي چې د خزانې وزير و، بې له دې چې نوم يې واخلي ]. د رې ستوريز جنرال مايکل د يلانگ د امريکې د مرکزي قواو ( سېنټرال کمانډ ) مرستيال ستر کوماندان و ( ۲۰۰۰تر ۲۰۰۳) . د د يلانگ اَمِر څلور ستوريز جنرال ټامي فرانکس د زييز کال ۲۰۰۱د اکتوبر د وروستنئ د رې شنبې ، ياني د اکتوبرپه ۳۰، د شپې په تياره کې د تاجکستان په د وشنبه کې په خپله عسکرې الوتکه کې کوزېږي، اوپه همدغه الوتکه کې ورسره په همد غه شپه کې د شمالي ټلوالې د وه د رې مشران گوري . جنرال د يلانگ د شما لي ټلوالې مشران داسې راپېژني :« اوزبک » جنرال عبدالرشيد دوستم، «هزاره شيعه» جنرال کريم خليلي ، او « د وه تاجک سني» جنرالان اسماعيل خان او فهيم خان. په د وی ټولو کې نه يواځې تنوع څرگند ېدله (اوزبک، هزاره او تاجک، او شيعه او سني ) ، بلکې د وی « کلک » ( ټَف ) هم وو : جنرال د وستم « د شمالي قصاب » [ بوچر آف دي نورت ] لقب گټلی و [ښايي دا به د < گېلم جَم > ژباړه وي

چي د وستم پرې په ملت کي نوم وېستلی و؟ زيرکيار .] هغوی هر يو په تېرو پنځه ويشت کلونو کي هره ورز په جنګ کي اخته وو. « جنګېد ل او بې له پښېمانۍ وژل د هغوی د ژوند طرز و .» [ فايټينګ ، اَنډ کيلينګ ويډ اَوټ ريموزر، واز اَ وې آف لايف فور د يم ]. د دې لپاره چي د شمالي ټلوالې د مشرانو د کلکتيا او بې رحمی اندازه مجسمه کړي، جنرال د يلانګ ليکي چي هغوی « هر يو شخصاً نږدې پنځوس سړي وژلي وو.» [ ايچ هيوينګ پيرزونَلي کيلډ کلوز ټو فيفټي مين ] د دغو کفايتونو په مټ جنرال د يلانګ کاږي چي د شمالي ټلوالې مشران به « په نظري ډول » د امريکې د مرکزي قواو د سترکوماندان جنرال ټامي فرانکس « د زمکني پوځ جنرالان وي » . فرانکس ورته په ډ اګه کړه چي « د اور قدرت » به د امريکې وي او «عسکر» ( آرمي) به د شمالي ټلوالې وي . مزار شريف د غونډ يو په غېږ کي پروت و . د يوې غونډ ۍ په څوکه کي د وستم د امريکې د خاصو قواو سره په غونډ ه کي ناست و. د د وستم شاته « په د رې کتارونو کي د هغه زر تنه سواره عسکر ترتيب شوي وو . په خپلو رواجي جامو کي هغوی د چنګيز خان د پوځ په شان بر ښنېد ل . يوويشتمې پېړۍ د پارلسمه پېړۍ ليېدلي وه .» [ دې لُوکډ لايک جينګيس کانز آرمی ]. جنرال فرانکس اشاره وکړه او د سي آي اې ايجنټانو د ډالرو له «ډ ېرې نه ټوکر لرې کړ » ، او د شمالي ټلوالې د مشرانو سترګي په پټه خزانه خوږې شوې ، ياني: اَ سټَک آف کيش، اَ فورچونز وُرت ، دي افاګانز لُوکډ آمېزډ د زياتو افغاناو په څېړ، د شما لي ټلوالي مشران « د معاملې په هنر کي استاذ ان وو»، خو د وی په دې نه پوهېدل چي جنرال فرانکس په معامله کي ښکته پورته ( هَګلينګ ) نشوه زغملی . فرانکس په نړۍ کي «يو کلک حرامي » ( ټفېست سَن آف اَ بيچ ) و چي د چارسره يې معامله(چنه وهل) نه کول، بلکي خپل اَمر به يې پرې مانه. کله چي د شمالي ټلوالي مشرانو په معامله کي د زياتو ډالرو اړتيا وښودله، جنرال فرانکس ورته خپل عکس العمل په « بُلشيت » (د غويی خوشان،چټيات، بې معنا خبره) څرګند کړ

د کتاب ليکوال جنرال د يلانګ په افغانستان کي د برغل په مهال يو مهم عسکري ټکي ته ګوته نيسي او هغه دا چي په افغانستان کي داسې هد فونه موجود نه وو چي په ويشتلو او ويجاړولو وارزي . « حتماً، بايد مونږ د هد فونو يو ليست[ټارګېټ ليسټ] درلودلای. » ددغه ليست ترتيبول هغه څه وو چي « مونږ ټولو به ورته سرونه ګرول .» ( هيوينګ اَس آل سکرَچېنګ آور هېډ ز) . د د فاع وزير د انالډ رمسفيلډ ( ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۶) په « ډ يرو هدفونو » پسې اړم و، خو « مونږ هېڅ نلرل. » رمسفيلډ ب ويل چي «پيدا يې کړئ» (فاينډ د يم ). بس خوارو جنرالانو «فرصتي موخو» ( ټارګيټز آف اُپورټونيټي ) ته مخ راواړاوه . له فرصتي موخو يا هد فونو نه يې مطلب د ا و چي د غليم بشري قواوې ياني مات شوي او تښتېدونکي طالبان دې د بريد ونو لاندې ونيول شي .ولولئ ۲۴تر ۲۷، او ۳۴ تر ۳۶، او ۴۷ مخونه . د طابانو رژيم چي يو څو ګړېېدلي وسلي او ورا سته پوځي سېبونه( ابادی ) لرل او په دې د و ل د ويشتلو لپاره د واقعي عسکري هد فونو د کمښت په ناروغۍ اخته و، نو بيا ولي امريکې په افغانستان کي د يوويشتمې پېړۍ نوې ، د قيقي او کوناټورې وسلي وکارولي ؟! د ا د ومره مستي او بد ماشي د څه لپاره وې ؟

**د سي آي اې د جګړې د ډ ګر د کوماند ان ( ګيري بېړنتسن ) کتاب**

Gary Berntsen, Jawbreaker, The Attack on Bin Laden and Al-Qaida: A Personal Account By the CIA's Key Field Commander. New York: Crown Publishers(27 December, 2005), pp.xviii + 328

ګيري بيرنتسن، جامي ماتوونکی، په بن لادن او القاعده باندې بريد : د جنګ په ډ ګر کي د سي آي اې د مهم کوماند ان کيسه . نيويارک :کرون پبليشرز، ۲۷ دسمبر ۲۰۰۵، اتلس + ۳۲۸مخونه ګيري بيرنتسن چي د شبه نظامي روزني لاندې نيول شوی و، د سي آي اې په پټ اسخباراتي خدمت کي يې له شلو کلونو نه زيات وخت تېر کړی دی .دده وظيفه دا وه چي بن لاد ن مړ يا ژوندی لاسته راوړي .ده په افغانستان کي د کال ۲۰۰۱ د نومبر په څلورمه نېټه د ګيري شرون ځای ونيو چي په کتاب يې وړاندې وغږېدلم . د ګيری بيرنتسن د کتاب غټ سرليک د هغه استخباراتي ټيم نوم دی چي د ګيري شرون سره افغانستان ته د کال ۲۰۰۱ د سپتمبر په شلمه نېټه ننوتلی و . هانک په سي آي اې کي د ترروريزم ضد مرکز افسر و . حميد اصلا فارسي ژ بی [افغان-امريکايی ؟] و او په امريکه کي له يېل پوهنتون نه راوتلی حقوقپوه و لمر په ډ و بېد لو کي و چي ګيري بيرنتسن، هانک او حميد د ازبکستان له تاشکند نه په نامشخصه، بې نشانه( اَنمارکډ ) الوتکه کي د تاجکستان د د وشنبې ښار بين المللی هوايی ډ ګر ته راورسيدل . هغه چي والوتله، پر ځای يې د امريکې د مرکزي قواو د ستر

کوماندان جنرال ټامي فرانکس مخصوصه عسکری الوتکه کېناستله ( ۲۰۰۱/۱۰/۳۰) . په « د وړو لړلي» مرسيډېس ګاړي کې جنرال محمد قسيم خان راورسېده چې د احمد شاه مسعود ناستن و ګيري بيرنتسن د فهيم جسمي معرفي د اسې وړاندې کوي : فهيم« يو لنډ ی، چاغ، منډلی او مخ په ګنجي کېدلو سړی» دی (مخونه ۸۹،او ۲۳۶( . د جنرال فهيم څېره «يو لنډ ي او غټ مخي» افسانوي مخلوق ته ورته ده ( نوم-فيسد (، ۹۰مخ . « نوم » يو افسانوي، تصوري په تن کوچنی او غټ سری مخلوق دی چې د زمکې لاندې ژوند کوي او خزانې ساتي .په فارسي کې ورته « جن کوتوله،[مجازی] غول بانکداری،...جن زير زمينی،د يو...ګورزاد» ويل شوی دی . ولولئ: فرهنګ معاصر انګليسی-فارسی. محمد رضا باطنی با د ستياری فاطمه آزرمهر، تهران، چاپ هفتم، پاييز ۱۳۷۵

“General Fahim, a short squat, stocky and balding man....Gnome-faced Fahim stated emphatically that the Taliban would not surrender.” Pp. 89-90.

غونډه د جنرال فرانکس په الوتکه کې پيل شوه ( ۳۰،اکتوبر/۲۰۰۱) .فهيم هڅه وکړه چې که د فرانکس پام کابل ته نږدې شمالي غونډ يو ته راواړوي . په ظاهر کې د فهيم دليل دا و چې کابل د افغانستان مرکز دی-هرڅومره زر چې ونيول شي هغومره زر به افغانان نوې اداره ومني . خو فرانکس په دې پوهيده چې فهيم په کابل کې د خپل قدرت د ټينګولو لپاره ځان لومړی هلته رساوه .بيرنتسن وايی چې امريکه د طالبانو او القاعدې په زپلو او ړنګولو پسې افغانستان ته ورغلې وه، نه د فهيم د قدرت د ټينګولو لپاره . جنرال فرانکس جنرال فهيم ته په ډ اګه کړه چې د جنګ عمليه په « مزارشريف لومړی، تالقان د وهم، او کابل دريم» راڅرخي .فارسي ژبي حميد چې د فرانکس وينا فهيم ته وژباړله، انجنير عارف د فهيم په غوږ کې «وپسېده» ( ويسپَرډ ) . ګيری بيرنتسن د ځان سره په فکر کې شو چې که جنرال فهيم « نوکې احساس ولري، د جنرال فرانکس نه به مننه وکړي.....» خو د غسې يې ونکړل او بيا د کابل موضوع ته راستون شو. فرانکس پی وينا « غوڅه» کړه په دې ډ و : « موږ به په مزارشريف پېل کوو.» ۹۱مخ . په غونډ ه کې فهيم د خپلو جنګي خد متونو لپاره له فرانکس نه د زياتو ډالرو د غوښتنې خبره راپورته کړه . په دې موضوع کې د سي آی أئ عملياتګر او د کتاب ليکوال ګيري بيرنتس د خپلې« تجربې له مخې» د شمالي ټلوالې د مشرانوپه اکله داسې نظر وړاندې کوي : «ايرانيان او د د وی افغان ترورز يان ټول د زړه له کومي غالۍ خرڅوونکي دي . د د وی په کلتور کې هر شی د خپلې ګټې لپاره په لايتناهي هڅو کې د معاملې [ چنه وهلو] لپاره چمتو دی »، ۹۲ مخ

“I know from experience that Persians and their Afghan cousins are all carpet salesman at heart. In their culture, everything is open to negotiation in an endless search for advantage.”p. 92

جنرال فهيم چې زياتې ډ الرې وغوښتلې، جنرال فرانکس خپل عکس العمل په «بُلشيت» (خوشان :چټيات، اپلتې، خوشې خبره ) وښود، جګ شو ، په الوتکه کې له غونډې نه ووت، او خپل سيګرټ يې ولګاوه . بيرنتسن جنرال فهيم ته په فارسي وويل : “چانه نزنيد” . حميد په ترهېدلو سترګو بيرينتسن ته کتل ځکه چې د خپلو متحد ينو د مشر په مقابل کې يې ترخه ژبه کارولې وه . د انجنير عارف « رنګ و تښتيده» ( ټَرنډ پيل) . فهيم او عارف« د واړه په څرګند ډ ول عصبي وو» ( ويز ييلي نيروَس )، پورتنی مخ . بيرنتس ليکي چې عارف پړه د حميد په ژباړه واچوله . خو بيرنتسن د حميد ژباړه ژ روغه وګڼله. بيرنتسن د عارف ادعا هانک ته وژباړله چې په سي آی أئ کې د ټروريزم په ضد مرکز کې مامور و . ده د بيرنتسن په شان ، د جنرال فرانکس سره د شمالي ټلوالې د استازو د « بې خونده ملاقات» ( پورلي هَنډَ لډ ميټينګ) پړه په فهيم او عارف واچوله، نه د دغې غونډې په ژباړن حميد . په غونډه کې فهيم ته د فرانکس وروستنۍ وينا د ا وه: « زه به دې د [ ۲۰۰۱ کال ] د د سمبر په نيمايی کې په بګرام کې وينم» . جنرال فرانکس چې د همد غه کال په د سمبر کې بګرام ته راورسيد، سمدلاسه يې له ګيري بيرنتسن نه د جنرال فهيم په اکله د ا پوښتنه وکړه :« ماته ووايئ، فهيم چې اوس يې پايتخت [ کابل ] په ولکه کې دی څه کوي؟» ګيری بيرنتسن ورغبرګه کړه چې فهيم ډ ېر وخت په دې کې لګيا و چې په کابل کې ځان اوخپل سازمان کلک کړي او «د راتلونکي افغان حکومت په خلق کولو کې اغيز ولري». د بيرنتسن په وينا، پخوانی ولسمشر برهان الدين ربانی په پخوانۍ جمهوري ماڼۍ کې اړولي وو، خو داسې برېښي چې د شمالي ټلوالې له کلک ملاتړ نه محروم و . بيرنتسن ورزياته کړه چې پخپله دی د ډاکټر عبداله عبداله سره په الوتکه کې ازبکستان ته لاړ چې دامريکې د خاص استازي ډ ا بينس سره ووينې

. شمالي ټلوالې منلې وه چې د بُن په غونډه کې به برخه واخلي. خو ډاکټر عبد الله عبد الله به د هغوی د استازی هیئت مشر نه وي، بلکې یونس قانوني به د د غه هیئت مشري په غاړه واخلي ۲۳۵مخ

**د مرکزي قواو د ستر کوما ند ان جنرال ټامي فرانکس کتاب**

General Tommy Franks, American Soldier. New York, NY: Regan Books/Harper Collins, August 3, 2004, pp. xvii + 590

جنرال ټامي فرانکس، امریکایی عسکر، نیویارک: ریګن بوکز/هارپر کالینس، اګست ۱۷،۲۰۰۴+ ۵۹۰ مخونه
ټامي فرانکس د زیبز کال ۲۰۰۱د اکتو بر د د پرشمې نېټې په شپه کې په خپله مجهزه عسکري الوتکه کې د تاجکستان په د وشنبه ښار کې کوز شو . «پرون» یې، چې د اکتوبر د ۲۹ نېټې سره سمون خوري، په پاکستان کې د ولسمشر پرویز مشرف سره لیدلي وو . مشرف ورته په خند ا کې ویلي وو چې بن لاد ن «لا تراوسه په افغانستان کې دی، په ختیز کې-توره بوړه»، ۳۰۹مخ . فرانکس په خپل مطبوعاتي کنفرانس کې ( تاشکند، ازبکستان،اکتوبر ۳۰،۲۰۰۱) د لوس اَنجلېس ټایمز پوښتنې ته داسې ځواب ورکړ چې له پاکستان نه د لته د افغانستان د فضا له لارې رارسېدلی و . د شمالی ټلوالې استازې مخکې له مخکې د جنرال فرانکس سره د ملاقات لپاره د دوشنبی ښار ته رار سېدلي وو . غونډه د جنرال فرانکس په الوتکه کې جوړه شوه . په الوتکه کې نور مهم عسکري اشخاص د جنرال فرانکس سره بد رګه راغلي وو
د ګیري بیرنتسن په شان، جنرال فرانکس هم د جنرال فهیم په څېره بډ بره کړې ده : که څه هم فهیم « کشمیری پکول » په سر کړی و او خپله ږیره یې « سمه کړې » وه ، هغه « د ما فیا کوماندان »( مافیا اِ ینفورسر) ته ورته برېښېده، ۳۰۹مخ . مافیا اِ ینفور سر یا کوماند ان دخپلې مافیا ناولي کارونه، پلانونه، د سیسې او تقلبونه پلي کوي . د مافیا د کوماند ان یا عملیاتګر په اکله ولولئ د سیسیل کیر بي او ټامس رینر کتاب، چې په زیبز کال ۱۹۸۷ چاپ شوی و

Cecil Kirby and Thomas C. Renner, Mafia Enforcer. Villard/Random Hous,1987, 293 pages

فهیم د خپل« مالیې وزیر» سره په یو « د وړو کې پټ» مرسېډ بس ګاړي کې راورسید . فهیم دلته غونډې ته راغلی و چې « بارګېن» یانې معامله وکړي .هغه فرانکس ته وویل چې که دی د فهیم سره مرسته وکړي او فهیم یې د هغه سره وکړي، له د ېنه به « مثبتې پالې» راووځي . فهیم په نقشه کې وښود ل چې لومړی به له پنجشېر د رې نه کابل ته نږدې د ښتو غونډ یو ته وخوځېږي او بیا به په تالقان، کند ز او مزار شریف پسې ملا وتړي . فهیم د خپلو عسکرو لپاره په تالقان کې هوایی ډ ګر ته اړتیا ښودله . فرانکس ورنه پوښتنه وکړه :« او کابل؟» فهیم ورغبرګه کړه چې بې د جنرال فرانکس له اجازې نه به کابل ته نه ورننوځي ( اَنتېل یو ګیو پرمیشن ) . فرانکس وایی چې د فهیم دغه ځواب « په سیاسي لحاظ روغ و . آیا هغه صادق و. دغه اساسي موضوع وه.» فرانکس په پاکستان کې د سهېلي افغانستان د ځینو پښتون مخالفانو د مشرانو سره کتلي وو. حامد کرزی هغه سړی و چې « تر ټولو ډ ېر» پرې د فرانکس سترګې خوږېدلې ( دي مُوسټ اِ مپرېسیو) . کرزی هغه پوه او فرهنګی ، روڼ اندی او څو ژ بی سړی و چې « د قبیلوي مشرانو ، د پلوماټانو، او عسکرو سره یې په عین سویه راشه درشه کولی شوه.» په اسلام اباد کې دسي آي أئ دفتر« د یوه راتلونکي ملي مشر په څېر د کرزي ملاتړ کاوه .» د جنرال فرانکس اند ېښنه داسې وه : که چېرې د طالبانو پاڅون ناڅاپه رانسکور شی، او شمالی ټلواله چې « تاجکانو، اوزبکانو اوهزاره ګانو نه جوړه شوې ده د کابل تشې ته ورود انګي» ، افغانستان به « د یوه بل د اخلي جنګ» په لومو کې ونښلي چې « شمالي اقلیتونه به پکې د پښتون اکثریت سره » لاس په ګر ېوان وي، یانې : نورترن فکشنز اَګېنست مَجور یټي پشتونز د سي آي أئ د فعالیتګر ګیري بیرنتسن په شان، جنرال فرانکس هم د شمالي ټلوالې په تجارتي خوی پوه شوی و. پخپله د جنرال فرانکس په وینا، « د دې وخت را ورسېد چې د غالېو په بیه وغږېږو» ( ټایم ټو ډ یسکس دي پرایس آف رَ ګز ). ولولئ ۳۰۹ تر ۳۱۱مخونه . جنرال فرانکس له جنرال فهیم نه پوښتنه وکړه چې دی ورنه څه غواړي . فهیم د تا لقان د هوایی ډ ګر د نیولو خبره راپورته کړه ، خو مخکې له دې چې د غې موضوع ته ادامه ورکړی « د پیسو د سړ ي» [ د مالیې د وزیر ] سره « و پسېده» ( ټرنډ ټو هېز منی مېن اَنډ ویسپَرډ ). وروسته له پسېدلو فهیم وویل چې د د غه کار لپاره په میاشت کې د رې ملیون امریکایی ډ الرو ته اړتیا لري . فرانکس ورغبرګه کړه چې « د رې

ملیون ډ الرو ته اړتیا لرئ چې برید پېل کړئ او مزار شریف ونیسئ .»  جنرال فرانکس اقرار کوي چې پخپله ده او هانک ( په سي آي أئ کې د ټروریزم ضد مرکز افسر ) د دې حالت لپاره « تیاری نیولی و .» ( هډ پر یپېړډ فور د ېس ) !! خو فهیم ورغبرگه کړه چې « اُ، نه ! زه د ټولو عملیاتو لپاره په میاشت کې اووه ملیون ډ الرو ته اړتیا لرم .»  جنرال فرانکس جگ شو او ژباړن حمید ته یې په یو څه تریو وچولي سره وکتل (گلېرډ( او ویې ویل چې :« د ا خوشان دي ، ور ویې ژباړه.» ( د ېس اِز بُلشیت) . له خو شانو نه مطلب چټیات، خوشې ، بې معنا او بېهوده خبره ده . په امریکه کې په پرینستن پوهنتون کې د اخلاقي فلسفې متقاعد پوهاند هیري فرانکفورت « د خوشانو په اکله » ( آن دي بُلشیت ) په اتیا مخونو کې پام وړ کتابگوټی خپور کړی دی- پرینستن یونیورسټي پرېس، ۲۰۰۵جنوري . په دغه کتابگوټي کې روڼ اند یزې اکاډمیک ملنډې غلې شوی دي اود موضوع سره پکې جدي او علمي چلند شوی دی

Harry G. Frankfurt, On Bullshit. Princeton University Press, January 2005, pp. 80

جنرال ټامي فرانکس په الوتکه کې له غونډې نه پاڅېد، لاس مینځی یې وکړ، او له الوتکې نه بهر یې سگرټ ولگاوه . فرانکس په دې اړه لیکي : « د ا هغه اَکټ و چې موږ تمرین کړی و. هانک فهیم ته لکچر ورکاوه چې ' جنرال فرانکس ډ ېر په غصه دی' .» ( دی پَرفورمېنس وي هَډ ر یهَرسډ ) . فرانکس چې بېرته الوتکې ته راننوت او د مېز په خوا کې کېنا ست، هانک سر وخوځاوه او فهیم ته یې وویل: « پنځه ملیون د ټول شمال لپاره . ته به مزارشریف مخکې له روژې نیسې او له کابل نه بهر به تر هغه تم کېږې چې پایتخت ته د ننوتلو اجازه د رکړی شي .» فهیم ورغبرگه کړه چې : « هو» . جنرال فهیم او د هغه د مالیې وزیر ( عارف ، ممتاز ...؟ ) چې له الوتکې ووتل، جنرال فرانکس په دې اند ېښنه کې شو چې هسې نه چې په ملیونونو ډ الرو ډ ک شوي د رانه خورجینونه « د مرسېډ ېس گاړي فنرونه مات کړ ی .» سره له ټولو چلونو او چنه وهلو ، د جنرال فرانکس سر په دې خلاص نه شو چې « یو اس یې خرڅ کړی و او که یوه غالۍ یې رانیولې وه .» (و ېډَ ر وي هَډ ټرېډ ېډ أ هورس اُر باټ أ کارپېټ ). په داسې حال کې چې د سپین غر په تېرو څوکو کې خورا مُد رنې وسلې غړمبېږې،د د فاع د وزیررمسفیلډ ( ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۶) له خوا ټلفون کېږي : « جنرال فرنکسه ! ولسمشر [ بوش ] زموږ نه غواړي چې د عراق لپاره [ د ېرغل ] امکاناتو ته وگورو . ستاسې پلان سازي په کو حالت کې ده ؟» فرنکس ورغبرگه کړه چې پلان لري : د صد ام حسین په ضد پخوانی پلان بسنه نکوي .«موږ [ د منځني ختیز ] په سیمه کې د قواو مختلفې سطحې لرو» ، د هغو قواو په تناسب چې امریکې د پخواني پلان د جوړولو په مهال لرلې . « ... موږ واضحاً په افغانستان کې له خپلې تجربې نه د د قیقو وسلو او خا صو عملیاتو په اکله ځینې ارزښتمنې زده کړې کړې دي .» ۳۱۲ تر ۳۱۵ مخونه. زه ز یرکیار د لته داسې محسوسوم چې په افغانستان کې د نوو او د قیقو امریکایی وسلو د تمرین لپاره یرغل وشو او د غه تمر ین ځای په عراق کې د ا مریکې د جنگي کومي لپاره اشتها ساز و، یانې آپیټایزر و

د زییز کال ۲۰۰۱ په د سمبر کې جنرال فرانکس کابل ته راځي، او د ولسمشر په مانۍ کې « د جشن او برې فضا» ویني . د کوماندانانو « اکثریت په د ري ، افغان فارسي» غږېده . جنرال فرانکس «د ازاد شوي... ملت» مشر حامد کرزي ته وایي چې « ښاغلیه، د ا د افغانستان لپاره ستره ورځ ده .» کرزی « په روانه انگر یزي » جنرال فرانکس ته ورغبرگوي چې « د ا د ټولې نړۍ لپاره ستره ورځ ده» او ورزیاتوي چې « امریکې موږ ته په استبد اد باندې د غلبې وسیلې راکړې .» جنرال فهیم په جنرال فرانکس باندې سترگې خښې کړې وې، ځان یې وروروساوه ، او داسې یې ورته و ویل : « جنرال فرانکس، زه یو پنجشېری یم . په ما باندې به په راتلونکو ورځو کې تور ولگول شي چې زه د افغانستان ولسمشري غواړم .» فهیم خپلو خبرو ته د وام ورکړ چې « ځیني به فکر وکړي» چې فهیم غواړي شمالي ټلواله په افغانستان کې « خورا قوي قدرت پاتې پاتې شي .» جنرال فرانکس « سر وخوځاوه » ، یا نې د سر په خوځولو سره یې د جنرال فهیم د غه جمله تایِّید کړه . ( آې نُد ېډ ؛ هي وازنټ رانگ اباوټ د یټ ) .فهیم ورزیاته کړه چې جنرال فرانکس « باید په دې باور ونلري . زه پښتون حامد کرزي ته وفاداریم او وفادار به ورته پاتې شم....د تاریخ په دې مقطع کې حامد کرزی هغه سړی دی چې زموږ راتلونکی ډ اډ من کولی شي.» ، یانې : ټو آشور اُور فیوچر

جنرال د وستم هم ځان جنرال فرانکس ته وروروساوه . د هغه لاس یې « کلک ونیوه» ، بیا یې سر کوږ کړ او فرانکس ته یې خپل اخلاص او راز څرگند کړ :« تاسې یو ستر مشر [ لیډر ] یاستئ او زه ستاسې په خد مت کې یم . څوک غواړئ چې اوس ورسره وجنگېږم ؟» [ هُو ډُ و یُو وانټ مي ټُو فایټ نَو؟ ] جنرال فرانکس ورته داسې ورغبرگه کړه چې « جنراله، کله ناکله یو عسکر مجبوراً د

سولي لپاره راپاڅېږي، نه د جنګ لپاره .» د دې جملې په اورېدلو سره د وستم غلی شان شو . جنرال فرانکس د جنرال دوستم دغه عکس العمل داسې تعبیروي چې ښايي د سولې لپاره جنګ به د د وستم لپاره « یوه نوې مفکوره » وه[ اَز اِف هي هَډ جَست بِن اِیکسپوزد ټُو اَ نیو کانسیپټ ]. وروسته له یوې شېبې د وستم موسکی شو، او جنرال فرانکس د اود س ماتې د ځای په لټه کې شو .

اوس زه زیرکیار داسې وړاند یزلرم :په اسلام اباد کې، د طالبا نو د نظام سفیر مُلاعبد السلام ضعیف په ډېرو سختو شرایطو کی د خپل ژوند ترخې او سپېږې تجربې په لیکلی ډ ول خپل ملت او نړۍ ته وړاندې کړې . ګوندې مُلا ( مولانا ) جنرال محمد قسیم فهیم او جنرال عبد الرشید د وستم او د شما لې ټلوالې نور غټان او منسو بین هر یو په خپل ژوند کې د خپل ځان او هر یو د خپل مشر احمد شاه مسعود په اکله کتابونه خپاره کړي-خو د ا چې د غسې یې کړي وي ؟ ګوندې هر یو استاذ بر هان الد ین رباني او استاذ عبد الرب رسول سیاف هم زماد غه ډ ول وړاند یز ته غوږ ونیسي او خپل ولس ته په خپل ژوند کې خپلې کړاندې وروپېژني-خو د اچې دغسې یې کړي وي ؟ هغوی چې په توده جګړه کې لګیا دي، زه منم چې زما وړاند یز به ورته بې وخته اذ ان وي.